# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد  بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم  از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com | afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



لیکوال او شنانډ: نظرمحمد مطمئن

۲۰ فبروری ۲۰۱٦

## د ګډ حکومت د سقوط ځيني عوامل

نږدې یوه میاشت کیږي چې د ګډ حکومت د زوال او نړیدو خبرې په کورنیو او نړیوالو رسنیو کې اوریدل کیږي، دا خبرې سیاستوال، د استخباراتو کارکوونکي او خپله لوړ پوړې حکومتي چارواکي هم کوي.

غواړم په لنډ ډول د حکومت د نړیدو پر ځینو عواملو بحث وکړم، د حکومت کومې ناسمې تګلارې دي چې حکومت د پاڼې پر څوکه دروي.

۱ ـ ګډحکومت د نظام د چلولو او پرمخ تللو اړوند د یو منظم سیستم له پاره کار نه دی کړی، اوس هم د ولسمشر، د ولسمشر مرستیالانو، اجرایوي رییس او دهغه مرستیالانو، ملکي، قضایي، اجرایه، مقننه او امنیتي برخو کې پراخه ګډوډي تر سترګو کیږي. روښانه مثالونه یې په کندهار کې ولسمشر ته دهغه د تشریفاتو د رییس له امله سپکاوی، د ولسمشر په بنه حکومتولي کې سلاکار چې د جګړې له پاره ځوانان هڅوي او د سولې اړوند د سرپرست والي عطامحمد نور شرایط وړاندې کول او داسې نورې ګډوډۍ تر سترګو کیږي

۲ ـ د افغانستان د حالاتو اړوند دروغجنې او مبالغه امیزه څرګندونې، له ۲۰۱۲ ز کال بیا تر ۲۰۱۴ ز کال پورې ۲۰۱۴ ز کال افغانانو ته د یوې لویې بلا په ډول انځور شوی و، خو موږ ولیدل چې هغه ډول نه وه، اوس هم ۲۰۱۶ ز کال له خپل اصلي حالت څخه ډیر بیرونکی ولس، امنیتي ځواکونو، ګاونډیو او نړیوالو ته ترسیم کیږي او یا خو د پلان له مخې په ګډه ولسونه بیروي.

د داعش شتون په افغانستان کې نه وو محسوس شوي مګر امنیت شورا او ولسمشر د دغې ښکارندې څخه نړیوال او افغان ولس هومره ویراوو چې باید امنیتي ځواکونه مورال د لاسه ورکړي.

د امنیتي ځواکونو له پاره یې دعلماو، روحانیونو، قومي مشرانو او لوبغاړو څخه وغوښتل چې هغوی جګړې ته وهڅوي، مګر مشران یې داسې څوک ورته ټاکلي چې تر لاس لاندې عسکر یې پر ورتیا او لیاقت د شک ترڅنګ پر تعصبي چلند هم نیوکه لري.

د امنیتي ځواکونو خیالي شمیر چې د مثال په ډول یې هلمند یادو، رسمي شمیرې ښیې چې هلته ۳۸۰۰۰ امنیتي ځواکونه وجود لري مګر فزیکي شتون یې نږدې ۱۸۰۰۰ ته رسیږي.

۳- د حکومت دننه په لوړو کړيو کې د سقوط او ځان ساتلو ذهنيت حتی د اردو او پوليسو په ليکو کې، په بېلابېلو وختونو کې د حکومت د سقوط څرګندوني کوي او د ځان ساتلو اړوند فکر کوي که نظام بدلون مومي چې دوی پکې پاتې شي تر ډېره د خپل راتلونکي موقف غم اخيستې دي.

۴ - نه همږغي او د مسؤوليت نه احساس، د ګډ حکومت هر لوړپوړی او منځ پوړی مشر په خپل سر حرکات او اجرات کوي، د غني له خوا ګمارل شوی د عبدالله او د عبدالله له خوا ګمارل شوی د غني او دوستم اوامر نه پلي کوي. د مسؤوليت احساس ځکه نه کوي چې د شخصي او سياسي روابطو له مخې په دندو ګمارل شوي.

۵ - ډير لوړپوړي مشران په ملکي او امنيتي برخه کې يواځې د امتياز اخيستلو په غم کې دي، کار نه کوي، د سيستم د سم روانولو او پرمخ بيولو فکر ورسره نشته او يا خو يې نه شيکولای، موږ وليدل چې د کندز د جګړې د بايللو لاملونه او د کندز د سقوط عاملين نه معلوم شول او نه هم څوک مجازات شول، يواځې د امنيت ټيټ پوړي کسان له دندو وشړل شول او بې سرنوشته شول، چې ممکن دا يو بل سر درد راتلونکي کې افغان حکومت ته جوړ کړي.

۶ - افغان سياستوال چې د حکومت پر کړنو نيوکي کوي د اصلاح له پاره نه، بلکې د امتياز ترلاسه کولو له پاره همدا کار کوي، که امتياز ورکول شياو په لوړو دندو وګمارل شي بيا ستونزه نه لري، د نظام د سيستم د جوړلو له پاره کار نه کوي.

۷ - ګډ حکومت هوايي ځواک ځکه نه لري چې نړيوال يې پر ميکانيزم باور نه لري، هغوی ويره لري چې تر ډېره به د ناسمو استخباراتي معلوماتو پر بناء بمبارد کوي، لکه چې ناټو ته همدوی ډير ځله ناسم معلومات ورکړي او ملکي بې ګناه خلک بمبارد شوي او په ځينو مواردو کې ناټو قصدا پر ملکي اهدافو بمبارد کړی لکه په کندز کې د بې پولې ډاکټرانو پر روغتون بمبارد. ناټو سره داويره هم شته که هوايي ځواک ورکړي ممکن حکومت کې دننه د بېلابېلو جهتونو اهداف په نښه شي. او يا ممکن سمبيز او قومي تعصب پکې وپالل شي لکه د درنو توپونو ځيني مثالونه چې موږ په سنګين، ميدان وردګ او ډنډ غوري کې ګورو.

۸ - د ملګرو ملتونو دفتر يوناما UNAMA سرچيني وايي چې د راتلونکي پارلماني او ولسواليو شوراګانو له پاره ګډ حکومت ته بوديجه نه ورکول کيږي، کله چې پارلماني ټاکني ونه شي او دوه کلن هوکړه ليک د غنياو عبدالله پلی نه شي چې د ګډ حکومت د پيل څخه په دوه کلونو کې به پارلماني ټاکني کيږياو رياستي نظام به په صدارتي نظام بدليږي، پارلمان به په قانوني ډول د صدراعظم چوکی مني، کله چې داکار ونه شي په اتوماټ ډول هوکړه ليک غير نافذ کيږي، او که چيرته د هوکړه ليک تمديد وکړياو يا دواړه لوري راضي شي نو اوس هم عبدالله خفه ښکاري چې واکونه يې محدود دي.

۹ - کله چې د پارلماني ټاکنو له پاره بوديجه نه وي، حکومت ورځ تر بلې کمزوری کيږي، سيمې د لاسه ورکوي، بيا به پرې فشار وي چې استعفی ورکړي، فکر کوم نړيوالو همداسې پلان جوړ کړي چې دوه کاله وروسته دغه نظام نور رنګ شي، کله چې نظام ړنګيږي، نه به قانوني پارلمان او نه هم قانوني سنا موجود وي، نو د حکومت واګې ممکن د امنيت شورا مشر حنيف اتمر ته وسپارل شي، چې دا په خپل ذات کې بلا نورې ستونزې زيږوي.

۱۰ - <u>شپيګل</u> ته د ناټو د راپور له مخې د ټول افغانستان د ۱۰۱ پوځي او نظامي واحدونو څخه يواځې يو واحد يې مسلکي او د کار وړتيا لري، کله چې پوځ کې دومره لويه ستونزه وي نو بيا که اوسنی ګډ حکومت او يا بل څوک په راس کې راځي ورته مشکل به وي چې د طالبانو سره جګړه کې پرمختګ پر ځای به نورې سيمې هم له لاسه ورکړي.

د ناټو د پټ راپور له مخې هره ورځ تر ۲۰ زیات امنیتي کسان وژل کیږي او د تیرو ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلونو په پرتله د امنیتي ځواکونو مرګ ژوبله زیاته شوې.

دا ډول د پوځیانو زیاته مرګ ژوبله او له جګړې سره نه مینه هم راپور شوې او د طالبانو د پرمختګونو خبر یې ورکړی دی.

۱۱ - د طالبانو چټک نظامي پرمختګ د افغانستان تحلیلګرانو شبکې د راپور له مخې چې طالبانو په ۲۰۱۵ کال کې ۲۴ ولسوالی تر خپل کنټرول لاندې راوستي دي په داسې حال کې چې په ۲۰۱۴ ز کال کې یې یواځې ۴ ولسوالی نیولې وې.

۱۲- د ګډ حکومت د محبوبیت کچه ډیره ټیټه ده د اسیا فونډیشن د سروې له مخې چې یوه امریکایي اداره ده او د حکومت پلوی کوي هغوی منلي چې د حکومت د محبوبیت کچه په ۲۰۱۵ز کال کې ۵۷.۸ سلنه ده پداسې حال کې چې په ۲۰۱۴ ز کال کې دغه سلنه ۷۵.۳ وه. که ربښتونې سروې وشي ممکن د ګډ حکومت د محبوبیت کچه تر ۳۰ سلنې وانه وړي.

۱۳- خپله ولسمشر غني‌وایي چې که له حکومت سره د بهرنیو پوځیانو مرستې او شتون زیات نه شي نو ۲۰۱۶ ز کال تر پایه به د حکومت بقا ستوزمنه وي. دا ډول د امریکا د کورني امنیت مشر جیمز وایي چې افغانستان به د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې سیاسي سقوط کوي.

۱۴ - د اردو د جنرالانو او مشرانو ویناوې چې پر حکومت بې باوره دي، د بغلان جګړه کې محاصره شوې عسکر چې خپلو مشرانو ته سپکاوی کوي، جرمني ته یو تبتیدلی پولیس چې وایي په جګړه کې له طالبانو سره زخمي شوم څلور مرمۍ مې په بدن کې ولګیدې دوه ورځې په دوه سوه بستر روغتون کې درمل نه راکول کیدل ډاکټرانو ویل چې ستا دوسیه نه ده ثبت شوې، هغه ولسمشر غني‌او عبدالله ته وایي چې تاسې ولې موږ بیرته افغانستان ته درغواړئ، تاسې غواړئ چې موږ په طالبانو مړه کړئ، او ستاسې زامن او لورګاني خپله په بهر کې دي.

۱۵ - نړیوال کانفرانسونو کې حتی هغه کانفرانسونه چې په پټ ډول په لویدیځو هیوادونو کې د افغانستان اړوند مسایلو باندې جوړیږي ډیری بهرني څیرونکي او تګلاره جوړونکي په دې نظر دي چې ګډ حکومت دوام نه شي کولای، لویدیځې نړۍ کې هغه حلقات او اشخاص چې د افغانستان اړوند تګلارو باندې کار کوي هغوی نظر لري چې د حکومت پاتې کېدل ستونزمن دی او وایي چې غیر اخلاقي ده چې دوام وکړي، یواځنۍ د حل لاره سوله ده.

۱۶ - د امنیتي ځواکونو د کارکونکو سره ناسم چلند چې د ۴۰۰ بستریز روغتون په حویلۍ کې د پولیس میرمن زیږون کوي مرسته یې څوک نه کوي د پوځ په لیکو کې منفي تاثیر لري، برعکس د مخالفو وسلوالو مورال لوړوي.

۱۷ - د ډاکټر نجیب الله وخت کې دکابل ښار بریښنا سمه وه اوس ستونزې لري، کندهار له کلونو راهیسې بریښنا نه لري، د حکومت پر وړتیا د ولس کلکه نیوکه ده، اقتصادي رکود او د افغانۍ ارزښت مخ په کښته روان دی.

۱۷ - د امنیت د مشر نبیل استعفی چې د سیمې د استخباراتي لوبو سره بلد شوی و، مګر د پاکستان اړوند د ګډ حکومت پر تګلارو یې نیوکه درلودله چې دده پر استعفی منتج شوه، داډول د امنیت د مرستیال ادیب فهیم استعفی او په وروسته وخت کې د کورنیو چارو د وزیر علومي د استعفی اوازې. ویل کیږي چې علومي خپله استعفی وړاندې کړې وه مګر داچې ګډ حکومت په بحرانيحالت کې قرار لري، بیا به دهغه د ځای ناستي ستونزه وه، که دفاع او داخله چارو وزیران دواړه سرپرست شي نو پر حکومت نیوکې نورې هم توندې کیږي، ځکه خو غني دهغه استعفی ونه منله.

۱۸ ـ له هیواد څخه اروپا او نور هیوادونو ته د ځوانانو تېښته، په تیرو دوه یا دریو کلونو کې ۲۸۰۰۰۰ ځوانان اروپایي هیوادونو ته تښیدلي دي او په ۲۰۱۵ ز کال کې نږدې ۱۶۰۰۰۰ ځوانان له هیواده تېښتې ته مجبور شوي، د فساد او اختلاس له کبله د حکومت نږدې ۵۰۰۰۰ بستونه خالي پاتې دي‌او کسان په دندو نه دي گمارل شوي.

۱۹ ـ د نشيي توکو د کښت او قاچاق زیاتوالی، دا ډول په نشيي توکو د روږدو شمیر تر درې میلونه اوړي‌او لاهم مخ په ډیریدو دی.

۲۰ ـ پراخ سیاسي مخالفت د حکومت پر وړاندي چې ممکن نه ده چې د هیواد دننه سیاسي مخالفین دي د حکومت ملاتړ وکړي،او نړیوال دومره پراخ سیاسي‌مخالفت ممکن ونه شي منلای.

۲۱ ـ د امنیت شورا او د ولسمشر غنيډ دفتر د رییس رحیمي، د پخوانیو کمونسټانو او پخوانیو مجاهدینو، د غني د کمپاین کوونکو او غني‌اوسني ټیم، د عبدالله او شمال ټلوالي د نورو مشرانو ترمنځ د واک پر سر ناندرۍ د حکومت ړنگیدو له پاره د اوسپنیزې ارې په څیر ده.

۲۲ ـ د سولې اړوند د توقع څخه لوړې وعدې او پخواني وخت ته ورته بې نتیجې او ناکامه هلې ځلې او بې نتیجې ځلور اړخیزه ناستې.

۲۳ ـ د گاونډیو هیوادو سره په اړیکو کې تعادل نه ساتل او په ځانگړې ډول له پاکستان سره ډیپلوماټیک او د گاونډیتوب کربنې ماتول، په ځینو ځایونو کې د پاکستاني پوځیانو له خوا د ډیورنډ کرښه لانديکول، او د پاکستان سره ځوړنده امنیتي هوکړه لیک.

۲۴ ـ د پاکستان په تګلاره کې بدلون د ملکي او پوځي حکومت بېلابېل مواقف، دا چې د سعودي او امریکا تر منځ ستونزې ورځ تر بلې زیاتیږي او دامریکا نږدیوالی له ایران سره سعودي مجبوره کوي‌چې له طالبانو سره اړیکې سمې کړي، د سعودي او پاکستان اړیکو ته په کتلو سره ښکاري چې د پاکستان په دریځ کې د طالبانو اړوند تغییر راغلی، هغه وعدې چې پاکستان له افغان حکومت سره کړی وي یو خو داچې پر طالبانو یې نفوذ او کنټرول نه درلود بل داچې اوس به وهم نه غواړي چې پر طالبانو فشار زیات کړي.

## د ستونزې مهم اړخونه طالب او امریکا دي

ګډ حکومت ممکن تر اکتوبر میاشتې پورې نور هم ډیر کمزوری او یا له منځه ولاړ شي، ځینې سرچینې وایي چې د ګډ حکومت وخت د نړیوالو د پلان سره سم د اکتوبر میاشت کې پوره کیږي، نو بیا غني‌او عبدالله ته په کار ده چې د سولې له پاره رښتوني هڅې وکړي.

امریکا د افغان مسئلې برخه ده مګر ځان باسي ، امریکا باید مسؤلیت ومني. او دافغانستان جګړه بامسؤلیته ختمه کړي، داچې د امریکا د واک د انتقال وخت دی، هلته به ولسمشریزې ټاکنې کیږي، اوس وخت کې د امریکا له پاره هم مشکله ده، ښکاري چې د امریکا نوی حکومت چې په ۲۰۱۷ز کال کې به واکې په لاس کې اخلي هغوی به د افغانستان اړوند ټاکونکې پریکړه کوي.

اوباما اشاره کړې وه که د بهرنیو پوځیانو وتل د سولې پروسې برخه وي خبره پرې کیدای شي او امریکایي تحلیل ګران هم په دې نظر دي چې په افغانستان کې د بهرنیو پوځیانو شتون ستونزه ده، نو ښه داده چې افغان چارواکي د بهرنیانو د شتون د زیاتوالي او غځیدو له پاره خپل ټینګار پریږدي.

د طالب پیغام واضح دی چې بهرنی شتون نه مني مګر امریکا ځان شاته کوي او یو وخت به داکار کیږي امریکا به مخامخ د ستونزې د حل له پاره عمل کوي، ۲۰۱۶ز د امریکا څخه د حل او اولې کرښې کې راتلل توقع نه شي کیدای

، طالب او امریکا به په ۲۰۱۷ز کې خپلې تګلارې ټاکي، امریکا به بالاخره یا په سیاسي‌او یا هم نظامي اوله کرښه کې راځي، افغان حکومت ستونزه نه شي‌حل کولای.

په پای کې وایم چې جګړه ستونزه نه شي حل کولای، امریکا ته په کار ده چې د جګړې پر ځای د سولې تګلاره غوره او خپلې مرستې افغان حکومت او پاکستان ته د سولې اړوند مشروط او محدودې کړي.